PROPERTY OF ACKU

دغه رنګ مو تاسې غوره امت ګرځولي یاست چې پر خلکو ګواهان اوسئ

# شهادت

اونیزه

د حزب اسلامي افغانستان نشراتي ارګان

### درس قرآن

او ای انسانه! ته نه ګورې چې الله پاک د ځمکې ټول څیزونه درته تابع کړي. او هغه کښتۍ هم چې د الله په حکم په بحر کې چلیږي. او اسمان یې ټینګ نیولې چې دغه له اجازې پرته په ځمکه رانه پریوزي یې له شکه الله پاک په خلکو ډیر مهربان او ډیر رحم والا دی. او الله هغه ذات دی چې تاسې یې ژوندي کړئ بیا مو مړه کوي او بیا مو بیرته راژوندي کوي. ربښتیا هم چې انسان ډیر ناشکره دی. (سورة الحج: ۶۵ - ۶۶ آیتونه)

### درس حدیث

از ابو عمر یا ابو عمره سفیان بن عبد الله رضی الله عنه روایت است که گفت:
گفتم: یا رسول الله برای من در اسلام سخنی بگو که بعد از تو از کسی نپرسم. فرمود: بگو بخدا ایمان آوردم (آمنت بالله) و سپس استقامت کن و پایدار باش. (ریاض الصالحین)

شهادت پنځم کال، ۱۴ مه ګڼه، پرله پسې ۲۱۳ مه ګڼه   چهارشنبه ۱۳۹۲ هـ ل د چنګاښ ۵ مه   د۱۴۳۴ هـ ق د شعبان ۱۸ مه   د۲۰۱۳ م د جون ۲۲ مه

## وسله وال طالبان د ارګ له سختو امنیتي کمربندونو تیر شول

**دا پنځمه ځله ایزه او انتحاري حمله ده چې په کابل ښار کې کیږي، تردې وړاندې د ستري محکمې پر دروازې، د مهاجرت پر لړیوال سازمان، د کابل نړیوال هوایي ډګر ته څیرمه او په شاه شهید سیمه کې هم ورته حملې شوې وې**

کابل، رسنۍ؛
امنیتي چارواکي وایي چې؛ وسله وال طالبان له جعلي اسنادو څخه په استفادې د ارګ ماڼۍ له امنیتي دروازې څخه ننوتي وو.
د کورنیو چارو وزارت وایي چې؛ د دې دروازې او سیمې امنیت د پولیسو له خوا نه بلکې د ځانګړو ځواکونو له خوا ساتل کیږي.
د دې وزارت ویاند وایي چې؛ په دې پیښې کې څلور حمله کوونکي او درې افغان ساتونکي وژل شوي.
په تیره څه باندې یوه میاشت کې دا پنځمه انتحاري او وسله واله حمله ده چې؛ په کابل ښار کې ترسره کیږي، خو

پاتې ۴ مخ

## مرکز شبکه تحقیقاتی و تحصیلی در پوهنتون کابل ایجاد شد

کابل، رسانه ها؛
با ایجاد شبکه، تحقیقاتی و تحصیلی در کابل، پنج پوهنتون بزرگ افغانستان از طریق فایبر نوری با شبکه های منطقوی و جهانی وصل گردیدند.
مسوولان می گویند، شبکه تحقیقاتی و تحصیلی افغانستان، خدمات انترنت به سرعت بالا، زمینه کنفرانس های ویدیویی، تدریس از راه دور و دسترسی به منابع معلوماتی را در پوهنتون ها به محصلان و استادان فراهم می سازد.
مرکز این شبکه به روز سه شنبه از سوی وزرای تحصیلات عالی و مخابرات و تکنالوژی معلوماتی افغانستان در پوهنتون کابل افتتاح گردید.
امیرزی سنگین وزیر مخابرات و تکنالوژی معلوماتی در صحبت با رادیو آزادی گفت، با استفاده از شبکه فایبر نوری پس از این استادان و محصلین می توانند معلومات شان را آسان تر بدست بیاورند.
وی در ادامه گفت: ...

بقیه در صفحه ۴

## جان کری به کشور های منطقه در مورد آینده‌ء افغانستان اطمینان داد

کابل، رسانه ها؛
جان کری وزیر خارجه امریکا، کشور هند و سایر متحدین خود را در منطقه به روز دوشنبه اطمینان داد که ایالات متحده امریکا پلان دارد حمایت خود را از اردوی افغانستان ادامه بدهد و نیروهای امریکا را بعد از سال ۲۰۱۴میلادی زیر هر شرایط در افغانستان نگهدارد.
کشور هند بصورت مشخص نگرانی دارد که خروج نیروهای امریکایی از افغانستان باعث خواهد شد تا جنگ در افغانستان میان طالبان که توسط پاکستان حمایت می شوند و نیروهای افغان که از طرف کشور هند و کشورهای آسیای میانه کمک دریافت خواهند کرد، ادامه خواهند یافت، تا جلو طالبان را از باز گشت به قدرت بگیرند.
بنوشته روزنامه نیویارک تایمز، حکومت هند همچنان پلان گفتگوهای صلح با طالبان را که در دفتر سیاسی جدید در قطر که به این منظور باز گردیده مورد سوال قرار داد.
در عین زمان جیمز دابنز نماینده خاص امریکا برای افغانستان و پاکستان که قرار بود ریاست گفتگوهای صلح با طالبان را

بقیه در صفحه ۴

### مشرانو جرګه په راتلوونکې اونۍ د امنیتي ادارو مسئولین خپلې غونډې ته ورغواړي

کابل، رسنۍ؛
د افغانستان د مشرانو جرګې یو شمیر غړو په کابل کې د وسلوالو مخالفینو د سې شنبې د ورځې حمله وغندله او د دې حملې له امله یې په امنیتي ارګانونو انتقادونه وکړل.
مشرانو جرګې پریکړه وکړه، چې راتلوونکې اونۍ به د افغانستان د امنیتي ادارو مسئولین خپلې یوې غونډې ته د دې پیښې په اړه د پوښتنو لپاره ورغواړي.
څینو سناتورانو وویل چې؛ په قطر کې د

پاتې ۴ مخ

## کندهار کې چاودنې د یوې کورنۍ لس غړي وژلي

کابل، رسنۍ؛
په تیره مې کې هم کندهار کې چاودنې لړترلړه ۱۳ ولسي وګړي وژلي وو.
د افغانستان سوېل کندهار ولایت خاکریز ولسوالۍ کې د ماین چاودنې دوه ماشومان او اته ښځې وژلې دي. چاودنه کې د موټر چلوونکي په ګډون درې ناریته ټپیان دي.
د افغانستان کندهار ولایت کې د ماین چاودنې اته ولسي وګړي وژلي.
د کندهار ولایتي ویاند غورځنګ افریدي وایي، چاودنه کې د یوه ماشوم په ګډون لږترلږه اته ښځې وژل شوي او درې ناریته ټپیان دي.
چاودنه د کندهار خاکریز او ارغنداب ولسوالیو ترمنځ پر غځېدلي سړک د سې شنبې پر ګهیځ شوې ده.
د کندهار مطبوعاتي دفتر وایي، چاودنه سهار شاوخوا نهه بجې هغه مهال وشوه، چې د ولسي وګړو د سپرلۍ یو ګاډی د سړک غاړې پرماین وربرابر شو...

پاتې ۴ مخ

## گردهمایی اعضای حزب اسلامی در دفتر ولایتی تخار

**گزارش جلسه مشورتی اراکین ومجاهدین حزب اسلامی افغانستان در شهر تالقان مرکز ولایت تخار که روز پنجشنبه ۳۰ جوزای سال روان در دفتر حزب اسلامی برگزار گردیده بود،**

**درین مجلس قوماندنان دوران جهاد جبهات حزب اسلامی از ولسوالی های شانزده گانه ولایت تخار ،اعضای شورای ولایتی، اعضای شورای ولسوالی، اراکین حزب اسلامی ،علما ونمایندگان مجاهدین ولایت های بدخشان، کندز، بغلان و جوانان اشتراک نموده بودند.**
**این مجلس باتلاوت آیات روح بخش قرآنکریم توسط قاری محمد اسمعیل آغاز یافت سپس استاد میر احمد تمیم مشاور**

بقیه در صفحه ۴

## دننګرهار په ولایتي دفتر کې د فارغو محصلینو په ویاړ غونډه وشوه

شهادت - عبدالله کامه وال:
دننګرهار پوهنتون دمحصلینو په ویاړ دحزب اسلامي ولایتي دفتر یوه درنه او ارزښتمنه غونډه وکړه یاده غونډه د جمعې په سهار نهه بجې دقرآن کریم د مبارکو ایاتونو په تلاوت پرانیستل شوه
د دې شانداري او علمي غونډې لومړې ویناوال دننګرهار دولایتي دفترمشر استاد عبدالعلي و، استاد ترهرکلیزې اوپرانیستونکې وینا وروسته فارغ محصلین په ګانده کې خپلو مسؤولیتونو او وجایبو ته متوجه کړل استاد زیاته کړه هیواد ستاسو په څیر تعلیم یافته او په اسلامي او افغاني روحیه سمبالو ځوانانو ته اړتیا لري نو تاسې ځوانان باید په روانو حالاتو کې داسې کردار اداکړئ چې هم هیوادته له ر وانې بدختۍ نه نجات ورکړئ او هم دراتلونکو نسلونو لپاره دلارې مشال شئ.
دیادې غونډې بل ویناوال دننګرهار پوهنتون تکړه استاد او داعي عبدالهادي عاصم و عاصم صیب پرخپلو شاګردانو او خواخوږو غږ وکړ چې دهیواد په بیا رغونه اودیوې سالمې اداري په رامنځته کولو کې خپل کردار اداکړئ استاد وویل تردې وروسته ستاسو مسؤولیتونه څوبرابره شول اوس تاسو هغه ځوانان نه یئ چې یواځې دخپل ځان او درس غم به مو کاو بلکې اوس ستاسو پرسر دکورنۍ دحلالې تفقې ترڅنګ دهیواد سمبالښت او پکې دښو ستونزو سره دمقابلې او مبارزې مسؤولیت هم ستاسو په سر دی.
همدارنګه پدې غونډه کې دننګرهار پوهنتون د شرعیاتو پوهنځي پیاوړي اوهڅاند استاد برکت الله خان و، استاد دتیر په څیر یوه عالمانه او جذابه وینا وکړه اوفارغ محصلین یې په روانو حالاتو کې هغه څه متوجه کړل چې نن په اسلامي نړۍ اوپه ځانګړې توګه افغانستان کې تیریږي. استاد دخپلې عالمانه وینا په ترڅ کې داهم وویل چې زموږ ځوانان دنړۍ دځوانانو څو برابره کار اوزیار ته اړتیا لري.
دغونډې بل ویناوال دحزب اسلامي دځوانانو ناظم ودان هم لنډه وینا وکړه.
په یاده غونډه کې دننګرهار پوهنتون استاد او علمي مرستیال پوهاند دوکتور دل اقا وقار هم عالمانه اوهراړخیزه ویناوکړه...

پاتې ۴ مخ

## عوامل ناکامی درمذاکرات سیاسی

(نورین غلام سخی) - صفحه دوم

## نوازشریف وایي افغان سوله دپاکستان په خیر ده

**پاکستان په افغانستان کې ستراتیژیک عمق په زور او یا زموږ د ادارو په کمزورې کولو نه شي ترلاسه کولی. (ایمل فیضي)**

کابل، رسنۍ؛
د افغانستان او پاکستان لپاره د متحدو ایالاتو د ولسمشر ځانګړي استازي جیمز دوبینز په اسلام اباد کې له لومړي وزیر نواز شریف سره پر افغانستان، قطر کې طالب دفتر او د سیمې پر چارو خبرې وکړې.
پاکستاني چارواکي وایي چې لومړي وزیر نواز شریف په دغه لیدنه کې ټینګار لاره چې د افغانستان سوله او ثبات د پاکستان غوښتنه ده.
تر دغې لیدنې لږ وروسته ښاغلي شریف

پاتې ۴ مخ

د لوی او مهربان خدای په سپېڅلي نامه

# د افغانستان لانجه پوځي حل نه لري

که هر څوک دا فکر کوي چې افغانستان د جګړو له لارې تر خپل کنترول لاندې راوستلی شي لويه غلطي کوي، د تېرو څو لسيزو جګړو دا روښانه کړه چې هېڅوک نشي کولې د جګړو له لارې خپلو موخو ته ورسېږي او همیشه لپاره د خپلې خوښې حکومت قائم کړي. که داسې شونې واي نو بیا به جګړه دومره نه وه اوږده شوی، د جګړو جاري ساتل تراوسه له تباهي او بربادي پرته بل هيڅ نتيجه نه ده ورکړې نو ځکه د جګړې سیاست پرمخ بوول له هېواد او ولس سره له جفا پرته بله معنی نه لري.

دولت او مخالفين دې دا واقعيت ومني چې ولس د اقتدار په خاطر له جنګ جګړو څخه تر پوزې راغلي او دا سراسر د هېواد او ولس په تاوان بولي. له خپلې خاورې، دين او ولس سره مينه لروونکی سياسي او مذهبي مشران کله هم پخپل هېواد کې د جګړې اور نه بلوي بلکې تل هڅه کوي چې خپل ولس ته د سولې او امنيت ښکلي ګلونه ډالۍ کړي.

ولس له دولت او مخالفو وسله والو څخه په جديت سره غواړي چې په قطر کې د پيلېدونکي خبرې اترې د خپلو ذاتي ګټو او د نورو هېوادو موخو د تحقق لپاره نه بلکې د خاورې او ولس په ګټه پرمخ بوځي. د خبرو اترو پر وخت پر يو بل د فشار اچولو او د نيرنګونو د استعمالولو پر ځای له بشپړ خلوص او صداقت څخه کار واخلي. دوی د ولس زړونه او تائيد د جګړو او د يو بل د وژلو له لارې نه، بلکې په بشپړ صداقت او اخلاص سره د جګړو او مشکلاتو د کمولو له لارې ترلاسه کولی شي، له بده مرغه له کله نه چې د دولت او مخالفينو ترمنځ د خبرو اترو وخت راغلي ترڅنګ يې جګړې هم تودې شوي، دا ځل هم چې د خبرو اترو د پيلېدو لپاره د طالبانو تحريک په قطر کې خپل دفتر پرانيست او د يو مثبت او نتيجه خيز خبرو اترو هيلې زياتې شوې نو دولت د طالبانو د تحريک د بيرغ او نشان د ليرې کولو غوښتنه وکړه په داسې حال کې چې دا دومره غټه خبره نه وه ځکه چې هر تنظيم ځانته بيرغ او نښه لري او دا هرګز ددې معنی نشي ورکولې چې دا د طالبانو د تحريک په رسميت پيژندلو دلالت وکړي، بل لورې طالبانو هم په قطر کې د دفتر پرانستلو ترڅنګ افغانستان کې خپلې جګړې نورې هم توندې کړې چې د دواړو لورو له خوا ددغو فشار اچونو سياست يو ځل بيا د افغانستان د ځوريدلي ولس پر تېونو مالګه او مرچکي ودوړولې او ولس يو ځل بيا پخپلو مشرانو بې باوره شول.

دولت او مخالف وسله وال دې په پرانيستو غوږونو واورې چې ولس په هر حالت کې سوله غواړي او له سولې پرته له هرې کړنې سره کرکه لري.

د افغانستان کړيدلي او جنګ ځپلي ولس له دواړو لورو نه په کلکه غواړي چې په سلو کې سل د افغانستان د استقلال، ملي حاکميت او خپلواکي خيال وساتي، د خپلو شخصي ګټو پرځای د افغانستان ملي ګټو ته لومړيتوب ورکړي، ټول دې په ګډه د شهيدانو د ارمانونو د تحقق لپاره د عمل ډګر ته ودانګي، خپل ولس او راتلونکی نسل ته د يو ښه او روښانه مستقبل ورکولو لپاره سره يو موټې شي. د خپل دين، خاورې او ولس له ګټو پرته بل هېڅ شی په نظر کې ونه نيسي او د همدغو اهدافو د ترلاسه کولو لپاره خبرې اترې پرمخ بوځي. ولس يقين لري چې که چېرته مشران صرف او صرف د خپل دين، هېوادو او ولس د ګټو د تأمين په موخه د سولې په تعقيب کيني نو داسې هېڅ مشکل نشته چې د سولې خبرې اترې مثبتې پايلې ونه لري. پر ولس د حکومت کولو صحيح لاره هرګز دا نه ده چې دهغوی د غوښتنو په خلاف کامونه پورته شي او پر تېونو يې مرچکي ودوړول شي، که چېرته حکومت او مخالفين واقعاً د افغانستان د مسلمان ولس زړونه ترلاسه کول او د افغانستان زمکنی بشپړتيا غواړي نو ددې يوازينی لاره داده چې نور خپل ولس د اور په لمبو کې ونه دروي او څومره چې ژر کيدلې شي د سولې خبرې اترې کاميابه او خپل درديدلي ولس ته د امن ګلونه ډالۍ کړي.

تورن غلام سخی

# عوامل ناکامی در مذاکرات سیاسی

سی سال میگذرد که مردم ما از دریچه صلح بسوی میدانهای جنگ مینگرند. تا صلح و ثباتی را در میان خود تجربه نمایند، مگر متأسفانه هر روز این کشور مظلوم صدها کشته و زخمی را بخاطر هیولای جنگ و اعاده صلح قربانی میدهد.

و بطرف فردای تاریک نافرجام قدم می گذارد. فاجعهٔ جنگ تمام هستی مادی و معنوی ملت ما را نابود ساخته. دشمنان اسلام و وطن عزیز ما، این سرزمین بلاکشیده و ستم دیده را هر روز به گودال بدبختی، نفاق و برادرکشی سوق میدهند و با انواع توطئه ها که خاصیت دول استعماری است، شب، روز، گاه و ناگاه از هوا به زمین از زمین به هوا و از زیر خاک مردم مسلمان ما را میکشند. و بدون جزی ترین گناه بخاطر اعمال مقاصد ناروای خویش به دادگاه ها میکشانند، همه جای این سرزمین را ظلم و بیعدالتی فرا گرفته، توطئه ها و دسایس آنقدر شدت یافته که هیچ مسلمانی امید به آینده و صلح را ندارد، کسی کشته می شود، کسی به زندانها فرستاده می شود، کسی فرار میکند و کسی در انتظار سرنوشت خویش متحیر و سراسیمه نشسته. فریاد بیگناهان به آسمان بالا شده، هیچ گوش شنوایی وجود ندارد، تا فریاد مظلومان را بشنود، و به داد آنها برسد، جوانان ما به میدان های جنگ کشانده می شوند، و به خاطر اقتدار بیگانگان و ادامه تسلط اجانب می جنگند، سرمایه ها نابود و مغزها فرار میکند، اعلان خروج سربازان خارجی در سال ۲۰۱۴ در تمام ابعاد زندگی اجتماعی و اقتصادی مردم تاثیرات عمیق را وارد ساخته و همه چیز در حال رکود قرار گرفته، هیچ کسی نسبت بخود و آینده فامیل خود اطمینان ندارد، برای اعاده صلح و ثبات و امنیت گامهای برداشته می شود، ولی شکل باران موسمی داشته تا حال بطور متداوم تعقیب نگردیده که بتوانیم به صلح و امنیت دست یابیم. از زمان داود خان به اینطرف بخاطر استقرار ثبات سراسری در کشور گامهای برداشته شده، تا جهت های مطرح و درگیر در قضیه سیاسی افغانستان را قانع بسازند، که در یک پلاتفورم ملی جمع شوند و مشکلات شخصی، گروهی و سمتی خود را با دیدگاه های که دارند حل نمایند، مگر متأسفانه که همه شعار بوده نه هدف. فقط هر نظام و حکومت برای بقایایی نظام و حاکمیت شان گام های مغرضانه را بخاطر فریب مردم و دست یافتن به اهداف خود پیش انداخته اند.

نظام داود خان، نظام ترکی، امین، کارمل، نجیب همه بخاطر اقناع مردم و حل قضیه سیاسی تلاش شان همیشه اصرار بر دوام قدرت بوده به همچو ابزار کهنه استعماری دست یازیده اند. مگر نسبت اینکه همه دنبال مقاصد خاص گروه، قوم و سمت خویش بوده و نمیخواستند که نظام و حاکمیت اسلامی در این سرزمین که خواست اساسی ملت مسلمان ماست استقرار یابد.

همین علت باعث آن گردید که رژیم های مشارٌ الیه نتوانستند به قدرت های طاغوتی شان نسبت مقاومت و قربانی بیدریغ ملت مسلمان ما تاب مقاومت بیاورند. تا اینکه یکی پی دیگری محکوم به سرنوشت ابدی و اسقاط نظام های استبدادی و غیر اسلامی شان گردیدند. تجربه تاریخ در این سرزمین ثابت نموده که هیچ وقت صلح و ثبات از طریق اجانب و به اساس خواستها و اهداف آنها در میز مذاکره و یا توافق از بیرون استقرار نمی یابد، پاکستانیها، ایرانیها و روسها چندین بار از ذرایع مختلف میخواستند اراده خود را بر ملت ما تحمیل کنند. مگر در اثر تعقل و تأمل مبارزان برحق و راستین و دلسوز نسبت به مردم و سرزمین شان نتوانستند به این آرزوهای خائنانهٔ شان فایق آیند.

از مذاکرات بالای خط دیورند در زمان حکمروایی رژیم های مختلف در افغانستان گرفته تا مذاکرات بالای قضیه سیاسی افغانستان هیچ فیصله که ملت ما را قانع کند. از طریق مذاکره بدست نیامد، بخاطریکه دستهای ملوث استعماری پشت پرده در منطقه و جهان نمی گذارد که ما افغانها خود مسایل خود را در تفاهم ملی حل نمائیم، طرح صلح نبینین سیوون از

طریق ملل متحد که از طرف کشورهای منطقه هم مورد پذیرش قرار گرفته بود. از اینکه اراده قاطع ملت در آن متصور نبود به بن بست کشانده شد، کشورها و گروه های آسیب پذیر در کشور و منطقه در فعل و انفعالات مختلف و بواسطه گماشتگان شان به شکل دیگری داخل اقدام شدند. که ما شاهد ویرانی و تباهی سرزمین خود در طی جنگهای تحمیلی منطقوی و جهانی بوده ایم، با وصف آن زمانیکه حکومت مجاهدین در کابل به پیروزی رسید، کشورهای مداخله گر در امور داخلی افغانستان به ترس اینکه مبادا این سرزمین به یک کشور متحد، آزاد و دارای حاکمیت سیاسی و صاحب دولت قوی اسلامی در منطقه گردد. با استخدام گماشتگان اجیر و فرومایه اهداف شوم سیاسی و مذهبی شان را دنبال نمودند. که صدمه بزرگ و جبران ناپذیر را به وحدت ملی و انقلاب اسلامی ما رساندند، که ما شاهد درگیری های خونین که منجر به کشتار هزاران هموطن ما، تباهی و غارت تمام سرمایه های ملی ما گردید میباشیم.

در جریان تصادمات این گروه های مختلف در کابل و مناطق دیگر افغانستان مذاکرات متعددی جهت اعاده صلح و ثبات پایدار در افغانستان صورت گرفت. مگر هیچ یک از آن در داخل و خارج نتیجه مثبت را بخاطر برقراری صلح و امنیت به ارمغان نیاورد، روزی در پشاور حکومتی ساخته می شد و گاهی در جلال آباد فیصله صورت میگرفت و روز دیگری در ارگ توافق حاصل میشد و گاهی هم در حومه های شهر کابل طرفهای درگیر به مذاکره می نشستند و هیأت های هم از بیرون کشور منحیث میانجی وارد مذاکرات می شدند. چند روزی آتش بس و آرامش نسبی مردم ما را آسوده می ساخت، اندکی بعد بطور ناگهانی و از پشت پرده ها حالت رخ میداد که طرفهای جنگ هر یک یکدیگر را عامل حمله و سرپیچی از آتش بس میدانستند.

در همچو شرایط هر قدر مذاکرات که صورت میگرفت، تبعات آن آتش جنگ ها و اقتدار طلبی ها را بیشتر می ساخت، همگی میدانستند که عامل این جنگ تنها در داخل افغانستان نیست عوامل بیرونی هم وجود داشت که نیمخواست ما شاهد کشور مقتدر در منطقه باشیم، از یکطرف روسها که تازه شکست خورده بودند به دنبال جبران شکست خود بودند از جانب کشورهای منطقه که از سالها به این سو چشم طمع به منابع سرشار طبیعی و زیرزمینی افغانستان داشتند و میخواستند هر کدام افغانستان را تحت قیمومیت مذهبی و سیاسی خویش قرار دهند، مذاکرات در همچو موارد و شرایط هیچ نتیجه ملموس را بدست نداد و نه سبب فروکش کردن خانه جنگی و اعاده صلح در وطن گردید.

بالاخره در دوران حکومت طالبان هم وضع به همین منوال گذشت، صلح پایدار در این کشور اعاده نشد تا اینکه حکومت موقت، انتقالی و انتخابی که ارمغان آن دموکراسی بود بمیان آمد، و پنجاه و چند کشور خارجی جهت اعاده صلح و ثبات و تأمین امنیت سراسری وارد این سرزمین شد با تمام قواء و توان، وسایل، اسباب و با تکنالوژی جدید نتوانستند صلح و امنیت سراسری را تأمین نمایند، جنگ در کشور جریان دارد و هیزم این جنگ خانمسوز افغانها هستند که هر روز قربانی کشمکش ها و تنازعات بخاطر اقتدار طلبی ها می شوند، هیچ نوع مذاکره نتوانسته که باعث ختم جنگ و صلح دایمی گردد، بالاخره جهت های مختلف سیاسی مذاکرات پشت پرده و کنفرانس های متعددی را براه انداخته اند که در آن هم اهداف خاص و اراده ملت در آن دیده نمیشد، که آنهم نتایج را در پی نداشت تا باعث صلح و ثبات گردد، از یکطرف جنگ و از جانب دیگر صلح هر دو در رقابت هم ملت بیگناه ما را خسته ساخته است.

حتی به اثر تناقض گویی ها متصدیان امور بیم آن میرود که انتخابات شفاف و عادلانه صورت نگیرد، و یا اینکه بطور قطع انتخابات نشود، علی الرغم بی نتیجه ماندن مذاکرات از گذشته بدینسو باب مذاکرات دیگری در قطر باز گردید، تا پروسه صلح افغانی و تحت نظر افغانها و به اشتراک طالبان و دولت صورت گیرد، مگر نسبت عدم دور اندیشی و تلاش های عجولانه از طرف جامعه بین المللی نه تنها سبب ایجاد تفاهم و مذاکرات نگردید، بلکه همه پروسه های مربوط را به تعلیق درآورد، و با برافراشتن بیرق طالبان تا لوحه آن سبب خشم مقامات دولت و همسایگان ما گردید، که این در نتیجهٔ مذاکرات بود که اراده قاطع ملت در آن دیده نمی شد، که آتش خشم و انزجار مردم ما را نسبت به این معامله برافروخت، دولت، مردم و پارلمان کشور همه همصدا و با اراده قاطع همچو تصامیم و معامله ها را که ملت از آن بی خبر باشد، محکوم نمودند. تفاهم و فیصله های که از بیرون تحمیل میگردد، نتیجهٔ مثبت در قبال نداشته که بالآخره جامعه جهانی و کشورهای منطقه اعتراف نمودند که راه حل قضیه سیاسی و تعقیب پروسه صلح و اعاده صلح و ثبات دایمی در افغانستان، باید بواسطه افغانها و در مذاکرات بین الافغانی دنبال گردد.

# په دې ناندریو سوله نه شي راتلای

قریشي

تر اوسه په کراتو دسولې تر نامه لاندې دافغان حکومت له لوري مختلف وړاندیزونه شوي دي، چې داکثرو پایلې یې ناکامې وې، او علتونه یې هم معلوم دي.

په دې کې شک نشته چې امریکا په هیڅ ډول هم په افغانستان کې دسولې طرفداره نه ده او نه غواړي چې په افغانستان کې دې یو غښتلې، ملي او په خپلو پښو ولاړ نظام شتون ولري، او په دې کار کې خپل ګاونډي او سیمه ییز هیوادونه هم ورسره هم غږي دي.

په افغانستان کې دبهرنیو قوتونو او په ځانګړې توګه دامریکایي قوتونو موجودیت، دسولې پر وړاندې تر ټولو غټ خنډ دی، چې په دې سره که له یو لوري پخپله دافغانانو لپاره داقوتونه دزغملو وړ نه دي، له بل لوري ګاونډیان او سیمه ییز قوتونه هم په افغانستان کې دامریکایانو شتون دخپل ځان لپاره خطر ګڼي.

بلخوا تر اوسه دطالبانو له لوري هم په جدي توګه کومه دسولې اجنډا مخې ته نه ده راغلې، او که هغوی خبرو ته حاضر هم دي، نو له امریکایانو سره، نه له افغان حکومت او دسولې له شورا سره، چې په دي سره هم په دې میکانیزم سره په هیواد کې دسولې راتګ په لنډه موده کې ناشونی برېښي.

بلخوا په قطر کې دطالبانو دفتر جوړېدل، که څه هم دخبرو ددوام لپاره یو ښه اقدام ګڼل کېږي، خو په دې کې هم شک نشته چې په قطر کې موجود طالب چارواکي هم دپرېکړو پوره واک نه لري او یوازې دطرحو دانتقال جوګه دي.

دحکومت له لوري هم دسولې په نامه جوړه شوې شورا، دملي رنګ پر ځای په حکومتي رنګ ډېره رنګېنه ده، او اکثریت غړي یې دحکومت په خوښه په دې شورا کې ځای پرځای شوي او د یو وزارت په بڼه یې تشکیل جوړ دی، چې په هیڅ صورت دسولې لپاره کار نه شي کولای، بل داچې دطالبانو اصلي غوښتنه چې له هیواد څخه دبهرنیانو وتل دي، دافغان حکومت له وسیې وتلې غوښتنه ده.

نن په افغانستان کې ورځ تر ورځ امنیتي حالت مخ په خرابېدو دی، که له یوې خوا طالبان او حزب اسلامي دحکومت او بهرنیانو پرووړاندې جګړې ته دوام ورکوي، له بل لوري ګاونډیان او خپنې سیمه ییز قوتونه هم خپلې ترېګنې دلته سره پالي، چې ددې ټولو اصلي عامل امریکا او دهغې ملګري دي.

نن دهمدې بهرنیانو په شتون کې دګاونډیانو او نورو مداخلې په ډاګه او پراخه پیمانه روانې دي، له مسلح مداخلت نه نیولې تر فرهنګي، مذهبي او سیاسي لاسوهنې، چې له ورایه داسې برېښي چې امریکا له دې مداخلو سره تړلې اویاهم پرې چوپه خوله ده.

افغانان اوس دهر لوري لپاره دسون مواد دي، که په یو برید کې طالبان مري، که ملي اردو، او یا عام وګړي او ملکي مامورین، دا ټول ددې لپاره چې خپنې هیوادونه باید خپل (حق) په افغانستان کې معلوم کړي.

دحکومت په دننه کې او تش په نامه اپوزیسیون کې هم داسې ناندری روانې دي، چې یوازې دخپل قدرت او چوکۍ لپاره دهیواد د خاورې له تمامیت نه نیولې، تر دین او هرڅه پورې لیلام کولو ته تیار دي.

حکومتي اکثره چارواکي دنورو په خوښه او یاهم په شخصي علایقو او ګټو پر اساس په دندو ګمارل کېږي، چې اکثره یې له دیني او ملي روحیې نه ډېر واټن لري، او داسې کسان هېڅکله هم نه شي کولای او نه غواړي چې په هیواد کې دې رېښتینې سوله راشي، ځکه چې په دې سره په حکومت کې دمختلفو ډلو دګډون زمینه برابرېږي او بیا ددوی ځوکۍ او ګټو ته ګواښ دي!

په هیواد کې دسولې لپاره تر هرڅه لومړی باید حکومت خپله اداره په روغو بنیادونو ودروي او دفساد مخه ونیسي دوهم دا چې دبهرنیو قوتونو وتل له افغانستان څخه ضروري دي او د دوی په شتون کې د سولې راتګ ناشونی او ناممکن دی، دریم داچې طالبان هم باید یوه واضحه اجنډا ولري، دخبرو محور یې معلوم او خپلو پرېکړو ته ژمن وي، او دیې اعتباری له محور څخه ځان وباسي. همدا راز له هغو ګاونډیانو سره چې دلته مداخله کوي، هم باید جدي مذاکرات وشي او مذاکراتي ټیم دغرب او یاهم دعقدمندو کسانو په خوښه نه، بلکې دملي فکر لرونکو کسانو او محورو شخصیتونو په مشوره جوړ او یوه واضحه اجنډا ورکړل شي.

# د جهاد او قتال د لفظ ترمنځ باید فرق وشي!

محمد خلیل

دوه اونۍ وړاندې د پروان ولایت د خلکو استازی ښاغلی خواصي د ولسي جرګې په تالار کې دهغو رسنیو په خلاف د جهاد اعلان وکړ چې اسلامي او فرهنګي ارزښتونو ته تاوان رسوي، خو ښاغلي بکتاژ د خواصي صاحب په دې خبره سخت غبرګون ښکاره کړ او ویې ویل چې که خواصي جهاد کول غواړي نو غرونو ته دې وخیژي. همدغه راز د افغانستان د ژورنالستانو ملي اتحادیه هم سبا ته د یوې اعلامیې په خپرولو سره د عبدالستار خواصي څرګندونې د هیواد د نافذه قوانینو سره په ټکر کې وبللې.

که په ولسي جرګه کې د عبدالستار خواصي پر څرګندونو له تعصب پرته د ضمیر په عدالت کې غور وکړو نو یوازې او یوازې دا نتیجه ترلاسه کېږي چې دهغه دغه څرګندونې پرځای قانوني او معقولې وې، داسې کومه قانوني خلا پکې نه وه چې بکتاژ وربادې عصباني شي او هغه ته، غرونو ته د ختلو توصیه وکړي. همدغه راز د افغانستان د ژورنالیستانو ملي اتحادیه چې پخپله اعلامیه کې د ښاغلی عبدالستار خواصي څرګندونې د هیواد د نافذه قوانینو سره په ټکر کې بللی دا هم حیرانوونکی منطق دی ځکه چې هغه د ګناه داسې خبره له خولې نه وه ویستلې چې د نافذه قوانینو په خلاف وي.

د جهاد لفظ عام دی چې لغوی معنی یې جدو جهد او هلې ځلې ده چې کله هم د بدیو او ناوړو کړنو په خلاف د جهاد لفظ استعمال شي ددې معنی هرګز دا نشي کیدلې چې خامخا دی توره او ټوپک اوچت کړی شي بلکې ددې مطلب دادی چې دهغوی د مخنیوې لپاره ټول لازم تدابیر په کار واچول شي چې تر ټولو مهم یې د ژبې او قلم جهاد دی. د جهاد څو ډولونه دي چې مالي، ځاني، ژبې او قلم جهاد پکې شامل دي، هر چېرته چې د منکراتو په خلاف د جهاد غږ پورته کېږي لدېنه د ژبې او قلم، جهاد مراد وي، دا جهاد خلک په غرونو کې نه، بلکې د سمون او اصلاح په خاطر په ښارونو، قریو او کلیو کې کوي همدغه راز کله چې په یوه اسلامي ټولنه کې اسلامي او فرهنګي ارزښتونه له نظره وغورځول شي او پرځای اسلام ضد لادیني او سیکولرستي ارزښتونو ته لاره هواره کړی شي نو ددې په خلاف د جهاد معنی او مفهوم دا دی چې دهغوی د مخنیوی لپاره ټولې هلې ځلې پکار واچول شي او په رسنیو کې داسې شیان خپور کړی شي چې د اسلام او مسلمانانو د اصیل فرهنګ ترجماني وکړي.

خواصي صاحب د هغو رسنیو په خلاف د جهاد اعلان کړی و چې اسلامي او فرهنګي ارزښتونو ته تاوان رسول هغه د اسلام او فرهنګي ارزښتونو د دفاع لپاره دا غږ پورته کړې و، پکار خو دا و چې په پارلمان کې ټولو ناستو استازو د خواصي صاحب ددغه غږ ملاتړ کړی وای ځکه چې د اسلامي او فرهنګي ارزښتونو ساتل د هر مسلمان اسلامي او ملي دنده ده، دا چې ښاغلی بکتاژ د خواصي صاحب په دې خبره ولې دومره کلک منفي عکس العمل وښود او دجهاد له لفظ سره ولې دومره حساسیت ښکاره کړ حیرانوونکی او د پوښتنې وړ دی. که خواصي د جهالت په خلاف د جهاد لفظ استعمال کړی وای نو ایا په هغه صورت کې به هم بکتاژ عصباني کېده؟ په داسې حال کې چې نڅا، فحش سندرې، بربنډ فلمونه او سریالونه هم د جهالت له جملې څخه دي، له همدې ځایه معلومېږي چې بکتاژ ته دا کارونه ګناه نه ښکاري او ددې په خلاف د جهاد لفظ نه شي زغملی، د جهاد لفظ دومره عام دی چې ډېری خلک له فساد، جهالت، غربت او نفس سره د جهاد لفظ استعمالوي او هېڅوک لدېنه د قتال معنی نه اخلي. په دې کې هېڅ شک نشته چې په ځینو تلویزیوني چینلونو کې له فحش نه ډک سندرې ویل کېږي او نیم بربنډ حالت کې نڅاګرې نڅاوې کوي، که له واقعیت نه سترګې پټې نه کړو او د قرآن کریم او نبوي احادیثو لارښوونې له نظره ونه غورځوو نو هېڅوک ددې په حلت او رواوالې فتوا نه شي ورکولې او خامخا به ورته حرام وایي، خو دا جلا خبره ده چې ځینې خلک له ګناه سره دومره عادي شوي چې ددغې سترې ګناه په خلاف د چا وچولی تروشول هم نشي زغملې.

دچا د نیکې او پرځای خبرې په خلاف د قهر او غصې نه ډک عکس العمل ښکاره کول او دهغه په خلاف محاذ نیول په حقیقت کې د خدای او رسول سره محاذ نیول دي.

د رسول الله صلی الله علیه وسلم حدیث شریف دی چې که له تاسو نه څوک یو منکر او غلط کار وګوري نو هغه دې په لاس سره منع کړي، که په لاس یې نه شي منع کولې نو په ژبه دې منع کړي. او که په لاس یې هم د منع کولو توان نه لري نو په زړه کې دې بده وګڼي.

ایا په تلویزیوني چینلونو کې چې نن سبا کوم له عریاني او فحش نه ډک فلمونه او سریالونه ښودل کېږي او یا هم ښځینه سندرغاړې په نیم عریاني حالت کې نڅاګانې کوي دا ددې قابل دي چې پرخلاف یې د رسول الله صلی الله علیه وسلم د لارښوونې مطابق عکس العمل ونه ښودل شي؟! آیا دا به له الله او دهغه له رسول سره ښکاره دښمني نه وي چې ددغو فحاشیو په خلاف د خپل کرکې ښکاره کوونکو سره د مخالفت میدان ګرم کړی شي؟ د ژورنالیستانو ملي اتحادیه چې د خواصي څرګندونې د هیواد له نافذه قوانینو سره په ټکر کې بللې دي دا پوښتنه مطرح کوي چې د افغانستان د نافذه قوانینو په کومه ماده کې دا راغلي چې د افغانستان رسنۍ د اسلامي او فرهنګي ارزښتونه تر پښو لاندې کړي؟

د افغانستان په اساسي قانون کې خو دا راغلي چې د افغانستان د مسلمان ولس قانون د اسلام سپیڅلی دین دی او هر هغه شی چې د اسلام په دین کې حرام وي هغه حرام دی. آیا فحاشي، لوڅ فلمونه، سریالونه، مبتذلې سندرې او د ښځو عریان رقص په اسلام کې حلال دي چې د خواصي صاحب څرګندونې د هیواد له نافذه قوانینو سره په تناقض کې وبلل شي؟! خدای ته وګورئ حقایق مه مسخ کوئ، افغانستان یو اسلامي هیواد دی او هغه څه د زغملو وړ نه دی چې د اسلام د سپیڅلی دین روح او د افغانستان د وګړو د اصیل فرهنګ ارزښتونو ته تاوان ورسوي.

دغه رنگ مرغاسي لوړه امت گرغولي پاست چې پر ظلمو گراهاو اوسي

# شهادت

اونیزه

د حزب اسلامي افغانستان نشراتي ارګان

خبرونکی اداره: د حزب اسلامي افغانستان فرهنګي څانګه
د امتیاز خاوند: حزب اسلامي افغانستان
مسؤول مدیر: عبدالله "کامه وال"
مرستیال مدیر: عبدالخلیل (خلیل)

د اړیکو شمیرې
دفتر: ۰۲۰۲۵۲۱۲۳۲
مسؤول مدیر: ۰۷۷۷۲۰۲۲۰۱
مرستیال مدیر: ۰۷۷۲۲۷۵۷۸۳

• د شهادت اونیزه د هر لیکوال او د نظر خاوند د لیکنو هرکلی کوي
• د شهادت اونیزه حق لري چې د لیکوال لیکنه د ضرورت په وخت داسې اصلاح کړي چې د لیکنې اصل روح ته تاوان ونه رسي
• رالیږل شوې مطالب نه مستردیږي - یوازې سرلیکنه د شهادت د اونیزې رسمي نظر دی.

دیزاین: خواجه وحیدالله | آدرس: دحزب اسلامي افغانستان مرکزي دفتر، د شاداب ظفر بلاکونو شاته، خوشال خان مینه - کابل | Email Add: shahadatnews_kabul@yahoo.com




## وسله وال طالبان د ارګ له سختو ...

دا خل وسله وال طالبان وتوانیدل چې؛ ان د ارګ ماڼي له امنیتي دروازې څخه هم تیر شي.

د کابل امنیتي مسوولانو وویل چې؛ حمله کوونکو له لوکسو موټرو او جعلي اسنادو نه په ګټې اخیستنې توانیدلي چې؛ د ارګ ماڼې له امنیتي دروازې نه داخل شي.

د کورنیو چارو وزارت ویاند صدیق صدیقي خبریالانو ته وویل چې؛ د دې سیمې امنیت د پولیسو له خوا نه بلکې د ځانګړو ځواکونو له خوا ساتل کیده:

"له بده مرغه تړ هم موږ او تاسې په کابل ښار کې د یوې انتحاري حملې شاهدان وو،دا حمله په داسې یوه سیمه کې شوې چې د ډیرو ځانګړو ځواکونو لخوا ځارل کیږي.

په سیمه کې کمکي پولیس او زموږ د چټک غبرګون د قطعې ځواکونه هم وو،دري یا څلور تنه حمله کوونکي تول وژل شوي.

په خواشینې سره چې د دې سیمې دري افغان ساتونکي هم وژل شوي،نوربه دې سیمه کې کوم ارګان او یاهم ملکي خلکو ته زیان نه دی اوښتی ".

وسله وال طالبان د سې شنې ورځې د سهار په شپږ نیمو بجو د ارګ ماڼې،دفاع وزارت اوامریکایي ځواکونو د یوه مهم مرکز له ختیځې دروازې تونل او د امنیتي ځواکونوپر لور یې ډزې پیل کړې.

دفاع وزارت په یوه خبره کړي اعلامیه کې ویلي چې په دې حملې کې څلورو تنو وسله والو طالبانو برخه درلوده چې یوه یې انتحاري حمله وکړه او دري نوریې له امنیتي ځواکونو سره په نښته کې ووژل شول.

د دې حملې مسوولیت وسله والو طالبانو منلی،دوی ویلي چې هدف یې د ارګ ماڼې،دفاع وزارت او په آریانا هوټل کې د سي،آي،اې یا د امریکا د استخباراتو مرکز وو.

دوی وایي په دې حملې کې اتو تنو وسله والو طالبانو برخه اخیستې وه.

افغان امنیتي چارواکو ویلي چې په دې پیښه کې ملکي وګړو ته مرګ ژوبله نه ده اوښتې او امریکایي ځواکونو په دې اړه څه نه دي ویلي چې آیا د سي،آي،اې په مرکز کې بهرنیانو ته مرګ ژوبله اوښتې او که نه.

یوه عیني شاهد په سیمه کې د ځیلو سترګو لیدلی حال آزادي راډیو ته داسې بیان کړ:

"هو موږ ویده وو چې لومړی د کلاشینکوف خو ډزې وشوې او بیا پرله پسې چاودنې وشوې.

هو لومړی ډزې او وروسته چاودنې وشوې ".

په تیره څه باندې یوه میاشت کې دا پنځمه یله ایزه او انتحاري حمله ده چې په کابل ښار کې ترسره کیږي.

تردې وړاندې د سترې محکمې پر دروازې،د مهاجرت پر نړیوال سازمان، د کابل نړیوال هوایي ډګر ته څېرمه او په شاه شهید سیمه کې هم ورته حملې شوې وې.

په دې حملو کې لسګونه ملکي وګړو،افغان امنیتي او امریکایي ځواکونو ته مرګ ژوبله واوښته.

په کابل ښار کې د ارګ د ماڼې،دفاع وزارت او د امریکا د استخباراتو پرمرکز دا یې ساري حمله په داسې حال کې کیږي چې وسله والو طالبانو ته په قطر کې د فترهم پرانیستل شوی او خلک هیله لري چې د سولې خبرې اترې ژر پیل شي.

## مرکز شبکه تحقیقاتی و تحصیلی...

"امروز پنج پوهنتون از طریق فایبرنوری با هم وصل شدند، این پوهنتون ها نه تنها با هم دیگر بلکه با شبکه های جهانی نیز ارتباط پیدا می کنند محصلین و استادان در همین پنج پوهنتون می توانند که با استفاده از سیستم فایبر نوری به معلومات های علمی و تحقیقاتی جهان و منطقه دسترسی داشته باشند."

آقای سنگین گفت، شبکه تحقیقاتی و تحصیلی از طریق فایبر نوری پوهنتون کابل، پوهنتون طبی، پوهنتون تعلیم و تربیه استاد ربانی و پوهنتون های ننگرهار و بلخ با شبکه های منطقوی و جهانی وصل گردیدند.

وزارت تحصیلات عالی و مخابرات و تکنالوژی معلوماتی سال گذشته جهت فراهم سازی سهولت ها در بخش انترنت و فایبر نوری در پوهنتون ها تفاهمنامه را با هم امضا نمودند.

به اساس معلومات وزارت تحصیلات عالی، پیش از این برنامه اتصال پوهنتون ها به انترنت به کمک مالی سازمان ملکی ناتو، سفارت امریکا و وزارت مخابرات و تکنالوژی معلوماتی صورت گرفت.

در حال حاضر ۱۸ پوهنتون و موسسه تحصیلات عالی از طریق فایبر نوری به انترنت دسترسی دارند.

اما شماری از محصلین پوهنتون ننگرهار شکایت دارند که بخاطر پایین بودن سرعت انترنت نمی توانند از آن استفاده موثر نمایند.

این محصلین از افتتاح شبکه تحقیقاتی و اتصال پوهنتون ها با هم دیگر از طریق شبکه فایبر نوری استقبال کرده اند.

سید ظهیر یکی از محصلین پوهنځی انجنیری پوهنتون ننگرهار گفت:

"استادان ما برای ما کارخانگی می دهند، آن قدر سوبه کار های خانگی بالا است که به تنهایی نمی توانیم آن را انجام دهیم ومتاسفانه ازانترنت هم در پوهنتون استفاده درست کرده نمی توانیم بخاطریکه سرعت انترنت بسیار ضعیف است. ما از ایجاد این شبکه استقبال می کنیم و می توانیم از طریق ارتباط با دیگر پوهنتون ها مشکلات خود را حل نمایم."

تلاش ها به هدف اتصال پوهنتون ها در افغانستان از طریق شبکه فایبر نوری در حالی صورت می گیرد که هنوز هم شماری از محصلین از پایین بودن کیفیت در بخش تدریس در پوهنتون ها شکایت دارند.

این محصلین می گویند، هر گاه تدریس و تحقیقات در پوهنتون ها به سیستم عصری و تکنالوژی پیشرفته عیار گردد آنان می توانند با جهان ارتباط گرفته و به معلومات های بیشتر دسترسی پیدا کنند.

## جان کری به کشور های منطقه ...

در قطر به عهده بگیرد به روز دوشنبه به کابل سفر نمود تا با حامد کرزی و سایر مقام های افغان مذاکره نماید.

جمز دابنز مذاکرات با کرزی را مثبت توضیح نمود و گفت، هر دو طرف انتظار دارند که ببینند آیا طالبان می خواهند مذاکره کنند یا خیر؟

نماینده خاص امریکا برای افغانستان و پاکستان گفت، یک ترکیب از غلط فهمی ها باعث شد تا طالبان پرچم و لوحه امارت اسلامی را خلاف شرایط که حکومت افغانستان برای مذاکرات گذاشته بود در دفتر قطر به نمایش بگذارند.

به گفته دابنز، شورشیان طالب می خواستند دست به پروپاگند و تبلیغات بزنند و به این ترتیب از حد خود تجاوز کردند. با ایالات متحده امریکا هدایت داد تا بیرق و لوحه طالبان در دفتر سیاسی دور ساخته شوند. اما طالبان در یک اعلامیه گفتند، بر افراشتن پرچم و نصب لوحه در پیشروی دفتر سیاسی به موافقت مقام های قطری صورت گرفت.

بنوشته روزنامه واشنگتن پست، جان کری وزیر خارجه امریکا بروز دوشنبه در یک کنفرانس خبری مشترک با سلمان خورشید وزیر خارجه هند در دهلی جدید گفت، در مورد بیرق طالبان در قطر غلط فهمی صورت گرفته است.

گفتگو با طالبان دارای سه شرط است و تا زمانیکه این سه شرط عملی نشده باید گفتگو صورت نه گیرد:

روابط با القاعده را قطع کنند، جنگ و خشونت در افغانستان را متوقف بسازند و قانون اساسی افغانستان بشمول حقوق زنان و اقلیت ها را بپذیرند.

وزیر خارجه امریکا افزود، هرگاه این شرایط پذیرفته شود، بعداً گفتگوها آغاز خواهد شد. اما نه با ایالات متحده امریکا بلکه با شورای عالی صلح افغانستان.

اداره اوباما در هفته گذشته گفت، پیش شرط ها مبنی بر قطع روابط با القاعده و شناختن قانون اساسی افغانستان در اعلامیه نشر شده طالبان منعکس شده است. در عین زمان ایالات متحده

## حزب جوانان مسلمان له حزب اسلامي سره خپل پیوستون اعلان کړ

ګزارش عبدالله کامه وال

حزب جوانان مسلمان له حزب اسلامي سره په یوه درنه غونډه کې خپل پیوستون اعلان کړ.

له ننګرهار ولایت نه دشهادت خبریال خبرراکوي چې دمرغومې پر ۳۱ مه دننګرهار په ولایتي دفتر کې دیوې لویې غونډې په ترڅ کې دحزب جوانان مسلمان په نامه تنظیم چې دهیواد په زیاتو ولایاتو کې فعالیت لري اود۵۷زرو په شاوخوا کې دهیواد په کچه متعهدین لري چې زیاتره یې ځوانان دي اوپه بیلابیلو ولایتونو کې پرځپلو فعالیتونو بوخت دي تردولس کلنې مبارزې وروسته دیوې شانداري غونډې په ترڅ کې له حزب اسلامي سره خپل پیوستون اعلان کړ، دا شانداره غونډه چې دجمعې په سهار اته بجې دقران کریم په تلاوت پیل شوه په پیل کې دولایتي دفتر مشر استاد عبدالعلي لنډه او عالمانه وینا وکړه او دحزب جوانان مسلمان ورونو ته یې حزب ته دراتګ هرکلی و ویل، استاد وویل: چې حزب اسلامي په هیواد کې دیوسوچه اسلامي نظام په لاره کې خپلې هلې ځلې کوي اود دې ارمان دپوره کیدو په لار کې یې په لسګونو شهیدان ورکړي اوتر هغې به دې ته ادامه ورکوي ترکومې چې په هیواد کې دشهیدانو دارمانونو سره سم یو اسلامي نظام نه وي قایم شوی. وروسته دننګرهار پوهنتون استاد او داسلامي نهضت مباهي عبدالهادي عاصم هم لنډه او ارزښتمنه وینا وکړه، استاد حزب اسلامي دټولو افغانانو کوروګانه او پرمجاهدینو یې غږ وکړ چې سره یو موټی شي اوپرخپل سیاسي درایت او ایماني قوت د دښمن د دسیسو مخه ونیسي. له استاد عاصم وروسته دحزب جوانان مسلمان رییس ډاکټر نقیب الله اریاخیل دخپلو سلګونو ملګرواو اجرایه شورا اودننګرهارمشرتو حزبیانو په ګډون مطبوعاتو ته اعلان وکړ چې زموږ ټول ملګري به له نن نه وروسته دحزب دمنشور اواساسامې په رڼا کې خپل سیاسي او ټولنیز فعالیتونه کوي. نوموړي دیوې پوښتنې په ځواب کې وویل چې حزب اسلامي یو افغانستان شموله سیاسي او دعوتي تنظیم دی چې دهیواد په هره برخه کې پرته له کومې سمتي، ژبني او مذهبي تعصبه په هیواد کې داسلامي نظام دراوستو لپاره کارکوي. ډاکټر نقیب الله اوریاخیل زیاته کړه حزب اسلامي دافغانستان په مقدس جهاد او فکري روزنه کې هغه نه هیریدونکې کارونه کړي چې زموږ دراتلونکې تاریخ یو ځلانده باب دی اوهمدا وچې موږ دحزب اسلامي سره دیوځایی کیدو پریکړه وکړه.

یاده غونډه دهیواد دجید عالم او مدرس مولانا فضل الرحیم په دعالیه پای ته ورسیده.

امریکا گفته است، این کشور حاضر خواهد بود تا گفتگو با طالبان را آغاز کند و بعداً آنرا به حکومت افغانستان بسپارد.

وزیر خارجه امریکا بعداً در یک کنفرانس خبری گفت، در باره هر گونه موافقه نهایی با طالبان، مردم افغانستان یا از طریق این مذاکره و یا از طریق صندوق های رای در سال ۲۰۱۴ بدون اشتراک طالبان تصمیم خواهند گرفت.

یک مقام اداره اوباما به روزنامه واشنگتن پست گفته است، سیاست امریکا در مورد پیش شرط ها و در مورد پی آمد ضروری گفتگو ها تغیر نکرده است.

## نوازشریف وایي افغان سوله ...

افغان ولسمشر حامد کرزي سره تیلي فوني خبرې وکړې.

کابل کې چارواکي وایي چې په دې تیلي فوني خبرو کې لومړي وزیر شریف ولسمشر کرزي ته د اسلام اباد د سفر بلنه ورکړه.

په دې وروستیو کې د پاکستان پر پوځ او استخباراتو د ولسمشر کرزي مخنیو کو اسلام اباد قهرولی و.

پاکستاني رسنۍ په دې خوښې نه وې چې ولسمشر کرزي له یوه پاکستاني خصوصي تلویزیون سره په مرکه کې پر ډیورنډ کرښه خبرې کړې وې او ویلي یې و چې په رسمیت به یې ونه مني.

د ولسمشر کرزي ویاند ایمل فیضي د بي بي سي پښتو ویپاڼې ته وویل:

"افغانانو د ډیورنډ کرښه په رسمیت نه ده پیژندلې ،فشارونه، تاوتریخوالي او ترهګر بریدونه به یې پرې ونه مني. پاکستان په افغانستان کې ستراتیژیک عمق په زور او یا زموږ د ادارو په کمزوري کولو نه شي ترلاسه کولی. پاکستان به یوه باثباته او سوله ییز افغانستان کې ستراتیژیک عمق موندلی شي چې له افغانستان او منځنۍ اسیا سره اقتصادي اړیکې پرې وموي. د افغانستان پر ضد د طالبانو کارول تر موږ پاکستان ته اوس ډیر جدي خطر پیښوي."

پاکستان دا خبره ردوي او وایي تل یې د افغان سولې لپاره کار کړی دی.

د ولسمشر اوباما له ځانګړي استازي سره د نواز شریف په لیدنه کې د پاکستان د پوځ لوی درستیز او د ملي امنیت سلاکار هم تاست وو.

پاکستاني چارواکي وایي چې لومړي وزیر نواز شریف د ولسمشر اوباما ځانګړي استازي ته ویلي چې " د افغانستان په سوله او ثبات کې د پاکستان ګټې خوندي دي."

لومړي وزیر نواز شریف ساغلي ډوبینز ته ډاډ ورکړی چې پاکستان به د افغانانو په مشرۍ د سولې د بهیر ملاتړی وي.

پاکستاني لومړي وزیر غوښتي چې پر افغان چارو دې اسلام اباد او واشنګټن سره نژدې تماس وساتي.

## گردهمایی اعضای حزب اسلامی ...

فرهنگی مقام ولایت پیرامون اوضاع جاری کشور مسئولیت ومکلفیت های اعضا واراکین حزب اسلامی در قبال آن صحبت نموده براشتراک وسیع وفراگیر اعضای حزب اسلامی در انتخابات آینده تاکید کرد. بعدا انجنیر میراحمد قسیم یک تن از قوماندان دوران جهاد مقدس ملت مجاهد افغانستان در مورد تاسیس نهضت جوانان مسلمان، شاهکاری ها، قربانی ها و مجاهدت های اعضای مخلص ومتعهد حزب اسلامی افغانستان صحبت مفصل وهمه جانبه نمود که از سوی حاضرین مجلس با احساسات ونعره های کفرشکن الله اکبر استقبال گردید. در ادامه مجلس الحاج عبدالقادر افغان رئیس شورای صلح ولایتی تخار صحبت نموده و براخوت، برادری، یکدیگر پذیری و همچنان تلاش برای ایجاد فضای صلح آمیز در جامعه تاکید ورزید.

متعاقبا مولوی احمدالله احمدی رئیس دفتر ولایتی تخار حزب اسلامی افغانستان صحبت کرده ضمن ارائه گزارش ازفعالیت ها وکارکردهای یک ساله حزب اسلامی از اعضاءاراکین وقوماندانان حزب اسلامی افغانستان تقاضا نمود تا کارت اشتراک درانتخابات را خودشان ، اعضای خانواده و دوستان شان اخذ نموده وآمادگی برای سهم گیری وسیع در انتخابات سال آینده داشته باشند.

سپس این مجلس را ترانه حماسی که توسط تیم ترانه دفتر ولایتی تخار مربوط حزب اسلامی افغانستان قرائت گردید، مجلس را رنگین و حاضرین را به وجد آورد. سخنران دیگراین جلسه معنوی قاری احسان الله مشفق رئیس پوهنځی ادبیات پوهنتون تخار ومسئول بخش نهادهای تحصیلات عالی جوانان تخار حزب اسلامی درمورد نقش جوانان درحزب اسلامی و روند دعوت اسلامی صحبت نمود. همچنان دربن مجلس حاجی عبدالرحمن محمودی به نمایندگی برادران ومجاهدین حزب اسلامی ولایت بدخشان وسید کاظم سادات به نمایندگی از برادران ومجاهدین ولایت کندز صحبت کردند. درقسمت دوم مجلس اعضای شورای ولایتی ،اجرائیه ونمایندگان ولسوالیها دریک نشست صمیمانه ودرفضای برادری با انتخابات سری ومستقیم برادرمولوي احمدالله احمدی را یک بار دیگر با اکثریت آرا به حیث رئیس دفتر ولایتی تخار حزب اسلامی افغانستان بر گزیدند. و جلسهٔ مذکور با دعائیه محترم مولوی صاحب احمدالله پایان یافت. گزارشگر ابوبلال تالقانی

## کندهار کې چاودنې د یوې ...

دغه دفتر د چاودنې پره نیغ په نیغه د طالبانو پر غاړه اچولې، خو طالبانو تر اوسه په دې اړه څه نه دي ویلي.

چاودنه کې وژل شوي او ټپیان ټول د یوې کورنۍ غړي دي.

د تیرې مې پر ۱۳مه هم کندهار کې د سړک غاړې ماین چاودنې لړترلږه ۱۳ ولسي وګړي وژلي او نهه نور یې ټپیان کړي وو.

چارواکو ویل، په وژل شویو کې ښځې او ماشومان هم شامل دي.

چاودنه د معروف او ارغستان ولسوالیو ترمنځ په وام سیمه کې شوې وه، چې تر ډیره دا سیمه ناارامه ده او ډیر کله په کې ماینونه چوي.

## دننګرهار په ولایتي دفتر کې د فارغو...

... اوځوانان یې دراتلونکو مسؤولیتونو تر څنګ یووالي او همغږي ته وهڅول.

دیادې غونډې وروسته برخه چې محصلینو نه د تحسین نامو ویش و دحزب اسلامي دمشرانو او علماو کرامو لخوا و ویشل شوې.

دیادونې وړ ده چې دیادې غونډې ټولې تنظیمونکې چارې دجهادي شخصیت او دننګرهاردفتر اداري مسؤول قوماندان شمشیر خان په غاړه وې یاده پرتمینه غونډه دهیواد دجید عالم دین مولانا فضل الرحیم په دعایه پای ته ورسیده.